## ګل شاه خان ټکور بيتنۍ

دا زمـــا پښتــون ضـميـر هسې څړيـکې نۀ وهـې
ويـنـې پـه هـر کـور کښې وير هسې څړيکې نۀ وهې

خـلـقـو زمـــا بـد زړۀ تـــه کـومې ګـوتې مۀ نيسئ
ويـــنې تـــل د مړو بهيـــر هسې څړيـکې نۀ وهـې

مـــا د زړګـي خـوښ چې ؤ چـا تريـنـه شهيد کړلې
ويــنې د هـغــه تـصـويـر هسې څړيـکې نۀ وهـې

تـــل پـــه ويـنـو سـرۀ ويـنې هــره پښتـنـه کوڅـه
شـعـــر د پښتــانۀ شـاعـر هسې څړيـکې نۀ وهـې

وائـي ور تـــه دا مـضـرور واخلـه مې پـه زور غرور
زړۀ مې تـــنـګـوي غـاويـر هسې څړيـکې نۀ وهـې

تـــل ئې دا پېـغـور آورم چې ملا خو مې ور ماته کړه
مـــا د مـلا مـات شوي تيـر هسې څړيـکې نۀ وهـې

دا ويـنې هـر څه د وخت پرې پرې هر يو زړۀ د وخت
زړۀ زمـــا پـــه دې دلګيـر هسې څړيـکې نۀ وهـې

هـرې خوا ته جنګ دے جنګ ديرش کالونه وشول چې
رنګ مې دے پـه دې تـاغير هسې څړيکې نۀ وهـې

چـا بـه ئې خـاطـر چې کړو هـغه اوس مغرور شولو
نۀ مې شتـــه د زړه خـاطـر هسې څړيـکې نۀ وهـې

ژاړې چې د څـــان ســـره زړۀ د بيتـــنـي ټـکـور
ويـنې دغــه خپــل تـدبيـر هسې څړيـکې نۀ وهـې

## رحمت شاه سايل

ورک يـم کۀ د خپـلې مـدرسې پښتـون پېدا نۀ کړم
مـرم بـــه کۀ د ژونـد د فـلسـفې پښتون پېدا نۀ کړم

خـدايـګـو پـرونـے او نـنـنے پښتـون بـه اوبـائيلم
زۀ کۀ پـــه دې خـــاوره سبــانے پښتون پېدا نۀ کړم

مـــرم بـــه د مـغـلـو پـــه ذليـلـو دربـارونـو کښې
زۀ کۀ ,,خوشحال،، نۀ شم ننګيالے پښتون پېدا نۀ کړم

خـــاورې او ايـــرې بـــه تل هم داسې بـادؤم پـه سـر
څـو چې دلتـــه دا خـاورې ايرې پښتون پېدا نۀ کړم

هسې نـــه چې نـورې زمـــانې راپـورې وخـــانـدي
زۀ کۀ د دې خپـــلې زمـــانې پښتـــون پېدا نۀ کړم

څـنګ بـــه سبـــا وايـــمـــه چې زۀ هم کوم وجود لرم
نــن کۀ دغـــه ورک ټـوټې ټوټې پښتون پېدا نۀ کړم

---

## فريدالله فريد بيتنۍ

ډيـــر سـلامـونـــه مې ګـل ګـل وطـن تـــه ورسـوه
د ســحـــر بـاده بيـــا مې خپـل وطـن تــه ورسـوه

د ســـر ګـلـونـو او خـونـدونـو نـــه ئې پـاتې نۀ شم
هـلتـــه سپـــرلے دے مـــا يـو ځل وطن تـه ورسوه

د ژونـــدانۀ خـواږه تـراخـــه زۀ تېـروم تـرې لانـدې
دا مې ارمـــان دے مـــا اوربـل وطـن تـــه ورسـوه

وختـــه د چـــا دپـــاره چـــا چې ؤوکـرل پـــه لاره
مـــا ښائستـــه صـنـدل صنـدل وطـن تـه ورسوه

آه د يـــارانـــو مـــحــفـلـونـــه هېـرولے نۀ شم
هـــلتـــه نـــغـمې دي مـا غـزل وطـن تـــه ورسـوه

فـــريـــدالـــلـــه فـــريـده مـاتـــه دې بـابـا وئيـلـي
زۀ چې شـــم مړ بيـــا مې کـابـل وطـن تـــه ورسـوه

د پښتون مجلې چيف ایډیټر رحمت شاه سایل صیب سلامونه او نیکې هیلې مې ومنئ. زۀ د پښتون همېشنے لوستونکے یم او ډېره زده کړه مې ترې کړې ده او تر څو چې ژوندے یم ګټه به ترې کوم. د پښتون لوستلو زما احساسات هم راولړزول او په دې نظم لیکلو ئې مجبوره کړم. تاسو ته ئې د چاپ په هیله درلېږم. کۀ ستاسو د پالیسۍ مطابق وي. ډېره مننه.

عنایت الله بهار

## یو کېږو پښتنو

په دې کښې زمونږ ګټه ده یو کېږو پښتنو
کۀ یو نۀ شو دا واورئ چې ورکېږو پښتنو

راځئ چې ټول راټول شو دشمنۍ له مینځه یوسو
راځي چې شو یو موټے بدنیتۍ له مېنځه یوسو
راځئ چې ټول شو ورونه تربګنۍ له مېنځه یوسو
راځي چې نور به د یو بل نه ځارېږو پښتنو
کۀ یو نۀ شو دا واورئ چې ورکېږو پښتنو

راپاڅئ چې قدم د خوشحال خان په قدم کېږدو
راپاڅئ چې قدم د ایمل خان په قدم کېږدو
راپاڅئ چې قدم د باچاخان په قدم کېږدو
بیا ګورئ چې منزل ته څنګ رسېږو پښتنو
کۀ یو نۀ شو دا واورئ چې ورکېږو پښتنو

راځئ چې د نفاق او عداوت نه لاس په سر شو
راځئ چې د تیارو او جهالت نه لاس په سر شو
راځئ چې مینه مینه شو نفرت نه لاس په سر شو
راپاڅئ چې چې یو ټغر ته ټولېږو پښتنو
کۀ یو نۀ شو دا واورئ چې ورکېږو پښتنو

راځئ چې ګومانونه او ګیلې د مینځه لر کړو
راځئ چې ټول پخلا شو او فرقې د مینځه لر کړو
راځئ چې نفرتونه او کینې د مینځه لر کړو
نو هله به د ژوند په خوند پوهېږو پښتنو
کۀ یو نۀ شو دا واورئ چې ورکېږو پښتنو

راځئ چې دې وطن له مو د علم رڼا راوړو
راځئ چې دې وطن له بهار راوړو ښکلا راوړو
راځئ چې تورو شپو له یو روښانه سبا راوړو
بیا ګورئ تر اسمانه به رسېږو پښتنو
کۀ یو نۀ شو دا واورئ چې ورکېږو پښتنو

☆☆☆